# د افغـــــانستان اســــلامي امـــارت

## د ارشـــــاد، حج او اوقـــافو وزارت

### د مساجدو د ارشاد او انسجام رياست

**د جمعې ورځې د خطابت موضوع او**

**ليکلی تقرير او بيان چې د هيواد دمرکز او ولاياتو**

**ټولو خطيبانو ته په دواړو ملي ژبو (پښتو او دري) کې ليږل کيږي.**

---

**۹/ رمضان المبارک/۱۴۴۴ هـ، ق موافق د ۱۱/ حمل /۱۴۰۲هـ، ش**

# په روژه کې د صدقاتو او يو له بل سره د خواخوږۍ فضيلتونه

الحمد لله الذي أفاض الأجر لأهل البذل وأجزل، ووعد المنفقين بالخَلَفِ المعجَّل، وصلى الله وسلم على سيدنا محمد خير من تصدَّق وأنفق وبذل،وعلى آله وصحبه الذين أحسنوا لله العمل،أما بعد: قال الله سبحانه وتعالى:(الَّذِينَ يُنفِقُونَ أَمْوَالَهُم بِاللَّيْلِ وَالنَّهَارِ سِرًّا وَعَلَانِيَةً فَلَهُمْ أَجْرُهُمْ عِندَرَبِّهِمْ وَلَاخَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَاهُمْ يَحْزَنُونَ )البقرة:(۲۷٤)

صدقات ورکول په نفلي عباداتو کې تر ټولو غوره مالي عبادت دی.څوک چې د الله تعالی په لاره کې صدقات ورکوي دا داسې ده لکه چې الله تعالی لره قرض حسنه ورکړي وي.او الله تعالی د قرض په باره کې فرمايي:{مَّن ذَا الَّذِي يُقْرِضُ اللَّهَ قَرْضًا حَسَنًا فَيُضَاعِفَهُ لَهُ وَلَهُ أَجْرٌكَرِيمٌ}الحديد:۱۱

ترجمه:- څوک دی هغه کس چې الله ته قرض ورکړي ډير ښکلی قرض نو چې هغه(الله)دغه (قرض) دده لپاره دو چنده کړي او دده لپاره ډير د عزت اجر دی.

په يو بل آيت کې فرمايي:{ إِنَّ الْمُصَّدِّقِينَ وَالْمُصَّدِّقَاتِ وَأَقْرَضُوا اللَّهَ قَرْضاً حَسَناً يُضَاعَفُ لَهُمْ وَلَهُمْ أَجْرٌ كَرِيمٌ }الحديد:۱۸

ترجمه:- بيشکه خيرات کوونکي سړي او خيرات کوونکي ښځې او هغه چې الله ته قرض ور کوي ښه قرض ددو ی لپاره (دغه قرض حسن) دو چند کولی شي او ددوی لپاره ډير د عزت اجر دی.

په يو بل ځای کې الله تعالی فرمايلي دي: {وَأَنفِقُوا مِمَّا جَعَلَكُم مُّسْتَخْلَفِينَ فِيهِ ۖ فَالَّذِينَ آمَنُوا مِنكُمْ وَأَنفَقُوا لَهُمْ أَجْرٌ كَبِيرٌ}الحديد:(۷)

ترجمه:- او له هغه (مال) څخه څه صدقه کړئ چې هغه (الله) تاسو په دغه (مال) کې (دنورو خلکو) ځای ناستي جوړ کړي يې نو هغه کسان چې له تاسو نه يې ايمان راوړی دی او انفاق يې کړی دی ددوی لپاره ډير لوی اجر دی.

امام نسفي رحمه الله ددې آيت په تفسير کې فرمايې: يعنی هغه مالونه چې ستاسو په لاسونو کې دي دا د الله تعالی مالونه دي او تاسو ته يې ستاسې د فائدې لپاره درکړي دي او تاسو خليفه ګان ياست په دې مالونو کې او په حقيقت کې دا ستاسو مالونه نه دي او ستاسو حيثيت په دې مالونو کې د وکالت دی نو خيرات کړئ دا مالونه په حقوق الله کې.[المدارک]

ګرانو هيوادوالو!

د رمضان مياشت د خير او ښېګڼې مياشت ده او مونږ ته په کارده چې ددې موسم څخه پوره ګټه واخلو او هرډول عبادات وکړو؛ لمونځونه وکړو، تلاوت وکړو او خپل مال دالله تعالی په لاره کې ورکړو او په روژه کې صدقات او خيراتونه ورکړو. مونږ ته په کاردي چې د بيوزلو ، بيوسو او فقيرانو سره خواخوږي وکړو او دهغوی سره مرسته وکړو.

د روژې د فلسفې څخه دا هم ده چې د مسکینانو سره مرسته وشي او مسلمانان باید د صدقاتو په ورکولو سره د نورو مسلمانانو سره خواخوږي وکړي.

په روژه کې ځان ددې آیت مصداق جوړول په کاردي چې الله جل جلاله فرمايلي دي:{مَثَلُ الَّذِينَ يُنْفِقُونَ أَمْوَالَهُمْ فِي سَبِيلِ اللَّهِ كَمَثَلِ حَبَّةٍ أَنْبَتَتْ سَبْعَ سَنَابِلَ فِي كُلِّ سُنْبُلَةٍ مِائَةُ حَبَّةٍ وَاللَّهُ يُضَاعِفُ لِمَنْ يَشَاءُ وَاللَّهُ وَاسِعٌ عَلِيمٌ}البقرة: ٢٦١.

ترجمه:- د هغو کسانو مثال چې دالله په لاره کې خپل مالونه لګوي د هغه دانې په شان دي چې اوه وږي زرغون کړي په هر وږي کې سل دانې وي او الله (اجر) زیاتوي د چا لپاره چې وغواړي او الله ډیر پراخی والا ښه پوه دی.

په روژه کې الله تعالی مهرباني او سخاوي په خپلو بندګانو باندې رحمت ورباندې نازلوي او ښښنه ورته کوي مسلمانانو ته هم په کاردي چې د الله تعالی پر بندګانو رحم وکړي او ورسره خواخوږي وکړي او څوک چې دالله تعالی پر بندګانو سخا وکړي الله تعالی به په خپل رحمت سره پر ده باندې خاصه مهرباني وکړي ګناهونه به يې ور وبښي او په مال کې به يې برکت واچوي.
په دې کې هیڅ شک نشته چې په روژه کې صدقات ورکول او خلکو سره خواخوږي پالل د بل هر وخت څخه زیات اجر لري؛ ځکه د هر عبادت اجر د مکان او زمان په اعتبار سره زیاتیږي.
د همدې وجې نه رسول الله صلی الله علیه وسلم به د روژې په میاشت کې د بل هر وخت څخه زیاته سخاوکوله.
په حدیث شریف کې راځي: (عن عبدالله بْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ: كَانَ رَسُولُ اللهِ صلى الله عليه وسلم، أَجْوَدَ النَّاسِ، وَكَانَ أَجْوَدُ مَا يَكُونُ فِي رَمَضَانَ، حِينَ يَلْقَاهُ جِبْرِيلُ وَكَانَ يَلْقَاهُ فِي كُلِّ لَيْلَةٍ مِنْ رَمَضَانَ، فَيُدَارِسُهُ الْقُرْآنَ فَلَرَسُولُ اللهِ صلى الله عليه وسلم أَجْوَدُ بِالْخَيْرِ مِنَ الرِّيحِ الْمُرْسَلَةِ) صحيح البخاري
ترجمه:- د عبدالله ابن عباس رضي الله عنه څخه روایت دی هغه وایې چې رسول الله صلی الله علیه وسلم ترټولو خلکو زیات سخي ؤ او زیات به سخي ؤ په رمضان کې هغه وخت چې د جبرائیل علیه السلام سره مخامخ کیدلو په هره شپه د رمضان کې چې له هغه سره به یې تکرارولو قرآن کریم ،یقیناً رسول الله صلی الله علیه وسلم په نیکۍ کې زیات سخي ؤ د تیز باد په څیر.
لکه څرنګه چې باد ځمکه ژوندۍ کوي دغه رنګه رسول الله صلی الله علیه وسلم به مړه زړونه ژوندي کول او لکه د باد په څیر خیر او نفع به یې عامه وه.
مونږ ته په کاردي چې د خپل پیغمبر صلی الله علیه وسلم پیروي وکړو او په روژه کې زیات صدقات ورکړو.
د صدقاتو ورکول په هره میاشت کې غوره عمل دی خو په رمضان کې اجر زیات دی؛ ځکه روژه هغه غوره عبادت دی چې الله تعالی په روژه دارو باندې ملائکو ته پرې فخر کوي.
حضرت عمربن الخطاب رضي الله عنه فرمايې: (أَنَّ الْأَعْمَالَ تَبَاهَى فَتَقُولُ الصَّدَقَةُ: أَنَا أَفْضَلُكُمْ) المستدرك للحاكم
ترجمه:- بیشکه (نیک) اعمال به یو پر بل فخر کوي صدقه به وایې : زه له تاسو بهتره یم.
په روژه کې صدقات ځکه زیات اجر لري چې په صدقې سره د بل مسلمان سره ددې لوی عبادت په ترسره کولو کې مرسته او اعانت کول دي او بل داچې د حاجت په وخت کې اړمنو سره خواخوږي کول د بل وخت څخه زیات ثواب لري؛ لکه چې الله تعالی فرمايلي دي:{ إِطْعَامٌ فِي يَوْمٍ ذِي مَسْغَبَةٍ * يَتِيمًا ذَا مَقْرَبَةٍ * أَوْ مِسْكِينًا ذَا مَتْرَبَةٍ } البلد: ١۴-١٦
ترجمه:- اوطعام ورکول دي په داسې ورځ کې چې د لوږې والا ده یتیم ته چې دخپلوۍ خاوند وي یا مسکین ته چې په خاوروککړ وي.
په روژه کې صدقات ورکول دومره زیات ثواب لري چې که چیرې څوک چاته روژه ماتی ورکړي دا د روژې په اندازه ثواب لري.په حدیث شریف کې راځي:(مَنْ فَطَّرَ صَائِماً،كَانَ لَهُ مِثْلُ أَجْرِهِ ،غَيْرَ أَنَّهُ لاَ يُنْقَصُ مِنْ أَجْرِ الصَّائِمِ شَيْءٌ )رواه الترمذی

ترجمه:- چاچې روژه دارته روژه ماتی ورکړي،وي ده لره په اندازه د هغه اجر،وې بي له دې چې کم شي د روژه دار داجرڅخه څه شی.
ددې وجه نه د عبدالله بن عمررضي الله عنه په مناقبو کې راځي چې هغه به روژه ماتی د مسکینانو او یتیمانو سره کولو.
همداراز په سلفو کې زیات داسې کسان ؤ چې نورو ته د روژه ماتي په ورکولو کې به مصروف ؤ او خپله به یې روژه وه او د هغوی خدمت به یې کولو لکه :حسن بصري رضی الله عنه، عبدالله بن مبارک رحمه الله.
همدا راز د اسلافو علماوو د خوراک په ورکولو کې زیات حرص کولو او دې عبادت ته به یې په نورو عبادتونو لومړي توب ورکولو هغه به لړ وو اوکه زیات به وو؛حتی چې په روژه کې به هغوی د خوراک ورکولو کې فقر لازم نه ګڼلو بلکې هر روژتي ته به یې روژماتی ورکولو.

د صدقاتو ورکول هغه عبادت دی چې نور عبادتونه په ضمن کې لري لکه مینه او محبت پیداکول چې جنت ته دداخلیدو سبب دی.

د صدقاتو په ورکولو سره نفس د شیطان له تسلط څخه آزادیږي، شیطان دی چې انسان ته د صدقاتو په ورکولو قسماقسم وسوسې وراچوي؛ ځکه کله چې په صدقه کې د الله تعالی رضایت حاصلول وي او شیطان کوښښ کوي چې مسلمان دغه درجې ته ورنه رسیږي. په حدیث شریف کې راځي: ( ثَلاَثَةٌ أُقْسِمُ عَلَيْهِنَّ ، وَأُحَدِّثُكُمْ حَدِيثاً فَاحْفَظُوهُ : مَا نَقَصَ مَالُ عَبْدٍ مِنْ صَدَقَةٍ ، وَلاَ ظُلِمَ عَبْدٌ مَظْلَمَةً صَبَرَ عَلَيْهَا إِلاَّ زَادَهُ اللهُ عِزاً ، وَلاَ فَتَحَ عَبْدٌ بَابَ مَسأَلَةٍ إِلاَّ فَتَحَ اللهُ عَلَيْهِ بَابَ فَقْرٍ) سنن الترمذی

ترجمه:- درې خصلتونه دي زه قسم خورم په هغې باندې او زه درته یو حدیث وایم دا یاد کړئ. نه کموي مال د بنده لر صدقه او ظلم نه کیږي په یو بنده باندې چې ورباندې صبر وکړي؛ مګر داچې الله تعالی به اوچت کړي د عزت په اعتبار سره او نه برسیره کوي بنده دروازه د سوال؛ مګر داچې برسیره به کړي الله تعالی ده ته دروازه د فقر.
دا حتمي نه ده چې ستا په صدقه به د فقیر فقر له منځه لاړشي بلکې مهمه داده چې فقیر سره ستا له خوا کومک وشي.
حدیث شریف کې راځي: (عَنْ أَبِى هُرَيْرَةَ أَنَّهُ قَالَ يَا رَسُولَ اللَّهِ أَىُّ الصَّدَقَةِ أَفْضَلُ قَالَ: جَهْدُ الْمُقِلِّ وَابْدَأْ بِمَنْ تَعُولُ). ابو داود
ترجمه:- د ابو هریره رضي الله عنه څخه روایت دی چې هغه وویل ای دالله رسوله ! کومه صدقه بهتره ده؟ نبي علیه السلام وفرمایل: کوښښ د کم توان والا او پیل وکړه په هغه چا باندې چې ستا په عیال کې دي.
البته د صدقې اجر هغه وخت نور هم زیاتیږي چې مقابل لوری د صدقه کوونکي خپلوان وي په دې صورت کې صدقه دوه اجرونه لري یو د صدقې اجر او بل د صله رحمی اجر. په یو حدیث شریف کې راځي:(عَنْ حَكِيمِ بْنِ حِزَامٍ أَنَّ رَجُلًا سَأَلَ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ الصَّدَقَاتِ أَيُّهَا أَفْضَلُ قَالَ عَلَى ذِي الرَّحِمِ الْكَاشِحِ) مسند أحمد -

ترجمه:- د حضرت حکیم بن حزام رضي الله عنه څخه رایت دی هغه وایې یو سړي د رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه پوښتنه وکړه چې کوم صدقات غوره دي؟ نبي علیه السلام ورته وفرمایل: په هغه خپلوان باندې صدقه غوره ده چې دښمني په زړه کې در سره لري.

کله چې ستا په ګاونډ کې داسې بې وزله او بې وسه خلک اوسیږي چې روژه نیسي خو په خالي نس باندې او یا د روژه ماتي لپاره څه نلري؛ نو په کارده چې په خپل پخلي کې د هغوی برخه اوبه ور زیاتې کړو؛ تر څو د ګاونډي ښه هم راسره وشي او په دې افطاري کې دوه قسمه اجرونه ترلاسه کړو یو د روژې او بل د صدقې.

نن صبا چې زمونږ هیواد د نړیوالو دښمنانو د لاسه یې زیربناګانې له منځه تللي دي او زیات هیوادوال د خپلو وطنو څخه بې ځایه شوي دي او مرکزې ښارونو ته را کډه شوي دي او د ظالمانه محدودیتونو د لاسه دخلکو اقتصادي مشکلاتو زیات دي او خلک دشل کلن ناورین له امله بې وسه دي او ددوی په منځ کې داسې کونډې او یتیمان هم شته چې د شپې له پاره د

خوراک څه نلري، شتمنو او تاجرانو ته لازم ده چې دوی ته د مرستې لاس ور اوږد کړي او مرسته ورسره وکړي او که د چا نور توان نه وي اقلا د روژه ماتي پر وخت د خپلو ګاونډيانو او خپلوانو سره د خواخوږۍ له مخې مرسته وکړي او دوی مه هيروئ.

که چيرې مونږ د صحابه کرامو تاريخ ته زير شو په هغه وخت کې د مدينې منورې خلک ټول تاجران او سرمايه دار نه ؤ او په دوی کې د ګوتو په شمار خلک بډايه وو خو داچې بډايه خلکو تل د کمزورو خلکو سره خواخوږي در لودله او د خپلو مالونو څخه يې صدقات ورکول غريبانو د يواځې والي احساس نه کولو.

«أيُّمَا مُؤْمِنٍ أَطْعَمَ مُؤْمِنًا عَلَى جُوعٍ أَطْعَمَهُ اللَّهُ يَوْمَ القِيَامَةِ مِنْ ثِمَارِ الجَنَّةِ، وَأَيُّمَا مُؤْمِنٍ سَقَى مُؤْمِنًا عَلَى ظَمَإٍ سَقَاهُ اللَّهُ يَوْمَ القِيَامَةِ مِنَ الرَّحِيقِ المَخْتُومِ). سنن الترمذي

ترجمه:- کوم مؤمن چې بل مؤمن ته طعام ورکړي په لوږه کې الله تعالی به ده ته د قيامت په ورځ د جنت ميوی په خوراک کې ورکړي او هرمؤمن چې بل مؤمن ته اوبه ورکړي په تنده کې الله تعالی به يې خړوبه کړي په ورځ د قيامت کې د هغه خالص شاتو څخه چې مهربه ورباندې لږيدلی وي.

په جنت کې به د هر نيک عمل لپاره يوه دروازه وي چې د صدقاتو به هم يوه دروازه وي او له هغه دروازې څخه به صدقه کوونکې ته آواز کيږي چې دلته راشه او دا به ددوی لپاره يو ډول استقبال وي. په حديث شريف کې راځي:( مَنْ أَنْفَقَ زَوْجَيْنِ فِي سَبِيلِ اللهِ نُودِيَ مِنْ أَبْوَابِ الجَنَّةِ ، يَا عَبْدَ اللهِ هَذَا خَيرٌ ، فَمَنْ كَانَ مِنْ أَهْلِ الصَّلاَةِ دُعِيَ مِنْ بَابِ الصَّلاَةِ ، وَمَنْ كَانَ مِنْ أَهْلِ الجِهَادِ دُعِيَ مِنْ بَابِ الجِهَادِ ، وَمَنْ كَانَ مِنْ أَهْلِ الصِّيَامِ دُعِيَ مِنْ بَابِ الرَّيَّانِ ، وَمَنْ كَانَ مِنْ أَهْلِ الصَّدَقَةِ دُعِيَ مِنْ بَابِ الصَّدَقَةِ ) متفق عليه

ترجمه:- چاچې صدقه کړل د الله تعالی په لاره کې جوړه جنسونه آواز به ورته کولی شي د جنت ددروازو څخه چې دا غوره دروازه ده ستا لپاره، پس څوک چې د لمونځ ګذارو له ډلې وي هغه ته به د لمانځه ددروازې څخه آواز کولی شي او څوک چې د جهاد والا وو څخه وي هغه ته به د جهاد ددروازې څخه آواز کولی شي او څوک چې د روژې والاوو څخه وي هغه ته به د روژې د دروازې څخه آواز کولی شي چې ريان ورته ويل کيږي او څوک چې د صدقې والا وو څخه وي هغه ته به د صدقې له دروازې څخه آواز کولی شي.

د صدقاتو ورکوونکو ته ملائکې د خير دعاګانې کوي او د ملائکو دعاء مستجاب وي.[ابن بطال]

په حديث شريف کې راځي: (مَا مِنْ يَوْمٍ يُصْبِحُ الْعِبَادُ فِيهِ إِلاَّ مَلَكَانِ يَنْزِلاَنِ، فَيَقُولُ أَحَدُهُمَا: اللَّهُمَّ أَعْطِ مُنْفِقًا خَلَفًا؛ وَيَقُولُ الآخَرُ: اللَّهُمَّ أَعْطِ مُمْسِكًا تَلَفًا) صحيح البخاري

ترجمه:- داسې ورځ به نه وي چې په هغه ورځ کې بندګان صباح کړي؛ مګر داچې دوه ملائکې رابښکته کيږي يوه ملائکه وايي: ای الله ! ورکړئ نفقه کوونکي ته نيک عوض او هغه بله ملائکه وايي : ای الله ! ورکړئ د نفقې بندوونکي ته د مال ضائع کيدل.

**د صدقاتو او خلکو سره د خواخوږۍ ګټې :**

**۱**- صدقات ورکول د جهنم د عذاب څخه وقايه ده. عن زينب - امرأة عبد الله بن مسعود - رضي الله عنهما - : قالت: (خطَبَنا رسولُ الله -صلى الله عليه وسلم- ، فقال : يا مَعْشَرَ النساء ، تَصَدَّقنَ ، ولو من حُلِيِّكُنَّ، فإنكنَّ أكثرُ أهلِ جهنم يومَ القيامة).أخرجه الترمذي .

ترجمه:- زينب د عبدالله بن مسعو د رضي الله عنه ښځه وايي چې مونږ ته رسول الله صلی الله عليه وسلم خطبه وويله او وه يې فرمايل: ای د ښځو جماعته صدقات ورکړئ ولو که ستاسو له ګاڼو څخه وي؛ بيشکه تاسو به د قيامت په ورځ د جهنم زياته برخه ياست.

په دې حديث کې د صدقې په وجه مسلمان د جهنم له اور څخه خپل ځان ساتي.
۲- صدقات او خيراتونه بلاء، وباء ګانې او مرضونه دفع کوي.رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي:(دَاوُوا مَرْضَاكُمْ بِالصَّدَقَةِ)
السنن الكبرى للبيهقي
ترجمه:- د خپلو مريضانو علاج په صدقې سره وکړئ.
په يو بل حديث شريف کې راځي: (الصدقة تسد سبعين بابًا من السوء) الطبرانى.
ترجمه:- صدقه بندوي د اويا بديو دروازې .
۳- د رزق پراخي؛ په صدقاتو سره د مؤمن رزق زياتيږي . خوشبختانه چې په روژې سره د مؤمن رزق زياتيږي له بل پلوه په صدقې سره رزق زياتيږي. کوم روژه دار چې په روژه کې صدقات ورکوي د هغوی په مال کې به الله تعالى برکت اچوي.
په حديث شريف کې راځي: (مَا نَقَّصَ مَالَ عَبْدٍ صَدَقَةٌ) مسند أحمد
۴- صدقات جنت ته دداخليدو سبب ګرځي.په حديث شريف کې راځي: (عَنْ حُذَيْفَةَ قَالَ أَسْنَدْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلَى صَدْرِي فَقَالَ مَنْ قَالَ لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ قَالَ حَسَنٌ ابْتِغَاءَ وَجْهِ اللَّهِ خُتِمَ لَهُ بِهَا دَخَلَ الْجَنَّةَ وَمَنْ صَامَ يَوْمًا ابْتِغَاءَ وَجْهِ اللَّهِ خُتِمَ لَهُ بِهَا دَخَلَ الْجَنَّةَ وَمَنْ تَصَدَّقَ بِصَدَقَةٍ ابْتِغَاءَ وَجْهِ اللَّهِ خُتِمَ لَهُ بِهَا دَخَلَ الْجَنَّةَ) مسند أحمد
ترجمه:- د حذيفه رضي الله عنه څخه روايت دی هغه وايې ما خپلې سينې ته نبي عليه السلام تکيه کړی ؤ وه يې فرمايل: څوک چې لااله الا الله ووايې حسن راوي وايې چې دالله تعالى د رضا لپاره يې ووايې.د هغه خاتمه به په دې سره وشي او جنت ته به داخل شي او چاچې روژه ونيوله د الله تعالى د رضا لپاره په روژه به يې خاتمه وشي او جنت ته به داخل شي او چاچې يوه صدقه وکړه د الله تعالى د رضا لپاره په صدقه به يې خاتمه وشي او جنت ته به داخل شي.
۵- د قبر سختي به صدقي سره اسانيږي، کله چې د لمر ګرمي تر سرونو پورې را ښکته شي دا هرڅه په صدقې سره لرې کيږي.

٦- د صدقې په ورکولو سره زړونه نرميږي او نفسونه خوشحاليږي. څوک چې دالله تعالى په لارکې صدقه ورکړي او خواخوږي وکړي د مسلمانانو زړونه به ورته دعاء وکړي او زړونه به يې ورڅخه خوشحاله شي.

۷- په جنت کې به د صدقاتو ورکوونکو لپاره ځانګړی ځای او مقام وي.

په حديث شريف کې راځي:(إِنَّ فِي الْجَنَّةِ غُرَفًا يُرَى ظَاهِرُهَا مِنْ بَاطِنِهَا، وَبَاطِنُهَا مِنْ ظَاهِرِهَا. قَالَ أَبُو مَالِكٍ الْأَشْعَرِيُّ: لِمَنْ هِيَ يَا رَسُولَ اللَّهِ؟ قَالَ: لِمَنْ أَطَابَ الْكَلَامَ، وَأَطْعَمَ الطَّعَامَ، وَبَاتَ قَائِمًا وَالنَّاسُ نِيَامٌ) المستدرك للحاكم

ترجمه:- په جنت کې به يوه کوټه وي چې ظاهر به يې له باطن څخه معلوميږي او باطن به يې له ظاهر څخه معلوميږي. ابومالک اشعري رضي الله عنه فرمايې ما عرض وکړ چې يارسول الله! دا به دچا لپاره وي؟ نبي عليه السلام وفرمايل: دا به دهغه چا لپاره وي چې نرمې خبرې کوي او طعام ورکوي (صدقات ورکوي) او شپه په ولاړه تيروي( يعنى قيام الليل کوي) په داسې حال کې چې خلک ويده وي.